پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشید ۲۰۱۱/۱۱/۰۸

# د (بودا) مانا (رڼايي) ده
## او پشه يي ژبه (اريک) نه ده (۱)

په دې نږدې وختوکې مې په (افغان – جرمن انلين کې ) دګران ليکوال احمد جان مانو صاحب دمقالې سرليک ولوست، زړمې ځان دمقالې اصلي متن ته ورساوه، او دبودا په اړه مې ولوستل چې ګواکې دهغه نوم، دهغه مانا تراوسه پورې چا ته نه وه معلومه او مانو صاحب موږ ته دا څرک په پشه يې ژبه کې ولګاوه چې دهغه مانا (ډيرورکونکی ) او . . . دی. اوهغه هم په پشه يی ژبه کې ؟ کله مې چې پوره مقاله ولوسته خدای شته چې د حيرانتيا وړ را ته ښکاره شوه، ځکه کلونه مخکې چا د مکسکو نوم پښتو بللی و، چې ګواکی دهغه مانا (مه کوه څه کوه) دی، اودې ورته يوزيات شمير نورپښتوويې او غږونه شته چې هغه دنورو ژبو له وينګ او مفاهيمو سره يوازې آهنګی هم رنګی اوهم غږې لرې. په نړۍ کې داسې ژبه نشته چې دهغې د تورو او کليمو د وينګ لفظی آهنګ دې په نورو ژبو کې ونه موندل شي. يو مهال په هندکې يوه زده کوونکې د درس په بهير کې پوښتنه راڅخه وکړه چې پنډت په پښتو کې څه مانا لري، ما ورته وويل ملا، مذهبی لارښود. هغه وويل چې په لفظي لحاظ داسی آواز په پښتو کې شته، ما هو، شته خو بده مانا لري . . . پنډ ډت . . . يا به چې کله ما د (خور) کليمه ويله شاګردانو به خندل ځکه د خور د ويې مانا په هندي کې په بله مانا کارول کيږي . . . همداسې يو چينايی پروفيسور ملګري لرم دهغه نوم (کون – چون - ټنګ) دی چې زموږ په ژبو کې ښه نه مانا کيږي، له ويتنامی ژبې سره د مانو سره د پشه يی ژبې د پرتلې خبره همداسی يوه اټکل خيال ته ورته خبره ده چې علمي وړتيا يې زه فکر کوم ډيره کمزورې ده.

راځم د مانو صاحب ادعا ووته :
وايی پشه يي ژبه اريک ژبه ده ؟
لومړی بايد ووايو چې پشه يي ژبه د هندو - اروپايی ژبو په ډله کې له هغو وړو ژبو څخه ده چې نه ليک لري او نه هم ليکنی جوړښت او نه هم د يوې خپلواکې ژبې په توګه تر اوسه چا پرهغې باندې علمي کارکړی دی. کيدای شي ووايو چې د يوې پيړۍ مخکې څيړنو له مخې د بلورستان، کافرستان يا نورستان له ژبو څخه ده چې ژبپوهان يې په اريک (ايرانی يا آرياني) ډله کې نه شميري او هغه دهندو - اروپايی ژبو په (هندي - انديک) ډله کې بولي. دهندي ژبو د سروې په څيړنيز لست کې هم ټولې هغه ژبې چې د هند په شمال کی ويل کيږي لکه کشميري، لداخی، پاړي، چترالی، نورستانی او په لسګونو نورې دا ټولې وړې وړې ژبې په هندی ډله ژبو کې ثبت شوې دي، کله چې نامتو ژبپوه مارګنسترن په ميلادی شلمو کالونو کې د هند له لارې د همدغو ژبو د څيړنو لپاره ملا وتړله او په هند کې انګريزانو په دې نامه چې دی جاسوس دی د يوې مودې لپاره وځوراوه، د هغه په څيړنو کې هم نورستانی او د کشمير د سيمی ژبی په يوه لست او يوه ډله کې چې هغه هندي وه وشميرل شوې، د پوهاند زيار او نورو افغاني پوهانو څيړنې هم د (تاريخ تلفظ و صرف پشتو...) د پوهانو په تاييد سره همدغه کرښه څاري، له اريک فرضی ژبې څخه هم چې کومې ژبې ژبپوهانو را ايستلی په هغه لست کې هم چې لويی ژبې په کې (پښتو، دری، اوستا. . .) د نورستاني ژبو خبره چا نه ده کړې او نه يې په دغه ډله شميرلې دي. (د پرويز خانلري – د زبان فارسی په حواله) ځکه نو زه خپل ګران دوست مانو صاحب ته مشوره ورکوم چې د پوهې او تکنالوژۍ په زمانه کې له هغه شان حکمونو او څيړنو څخه تيرشی چې هغه يوه پيړۍ د مخه يوازې په اټکل سره کيدې او اوس موږ او زموږ نوي نسلونه چې علمي اسانتياوې په واک کې لرو، دهغو دغو ښکرورو درواغو ته حيران يو. اوس ژبه او د هغې هر اړخيزه څيړنه د عصري تکنالوژۍ په لابراتوارونه کې ترسره کيږي، هلته چې ناسم اټکل او درواغ کله هم پټيدای نه شي.

دويمه خبره چې زما لپاره د مانو صاحب په (ژب سالاري) څيړنه کې د خندا وړ وه او زه يې ناچار کړم دغه يو څو کرښې پرې وليکم هغه (د بودا د عبادت ژبه پشي وه) زه لړلړ په هندي، سانسکريت او پالي دری واړه ژبوکې د يوه شاګرد په کچه معلومات لرم، د دغو ژبو تاريخی شاه ليد، ادبيات او نور فرهنګی ارزښتونه راته معلوم دي، هلته برلاسی او منل شوې خبره داده چې د بوديزم د تعليماتو ژبه (پالي) ده. د نيپال په پلازمينه کې د بوديزم يو پخوانی مندر ته تللی وم هلته د دغه دين ډيرنادر مقدس متون اوس هم شته، د دغه مندر له يوه ځوان مونک سره مې د منادر


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او ناګاسینا د خبرو اترو په باره کي خبري کولي، هغه متن چي پوهان وايي دغه خبري اتري او پوښتني په پښتو ژبه کي وي (دراج ترنګنی د پخواني تاريخ د مقدمه ليکونکي په قول). هغه ماته د هغه مندر تول آثار راوښودل چي هغه په د يو ناګري ليک دود وو او ژبه يي پالي وه، ده چي کومي زده کړې د بوديزم په اړه درلودې هغه ټولې په پالي ژبه کي وې، کوم ځوان زده کوونکي چي هلته د بوديزم مقدسات لولي هغه ټول په پالي ژبه وو. پالی ژبه لکه سانسکريت مړه ژبه ده، خو په مذهبی لحاظ اوس هم دغه ژبه د بوديزم د مقدسو مراسمو او متونو او ورځنيو عباداتو لپاره ويل کيږي، لکه زموږ عربی .

بله، د تاريخی او مقايسوي ژبپوهني له ژبني منطق څخه ډير لري مانو صاحب وايی چي د بودا مانا په پښه يي ژبه کي (ډير ورکونکي) دی، (بود، بودي او بودا) دغه دری واړه شکله هغه نوم ويي دي چي مانا يي په سانسکريت او پالي دواړو کي يوازې (رڼايي او روښنايي) ده، دغه مانا هغه مهم ناسپړلي راز له ځان سره لري چي تراوسه پورې بود مذهب پوهان، له دغه اصل سره په تړاوکي دغه ټکي ته ځواب نه شي ورکولای چي (آيا بودا په وحدانيت باور درلود که نه ؟) که چيرې د مانو صاحب په وينا د بود مذهب ژبه پښه يي وي، او هلته بودا (چي د فعل په بڼه توضيح او تجزيه شوي نه فاعل) د ډير ورکول په ما نا تعبير او تفسيرشي، مانا داچی د هندوييزم د يو شميرخانګو پيروانو ته چي پر تناسخ او تعدد باندي باوري دي د څو خدايی نظام په باره کي يو ماخذ کيدای شي، خو داچي مانو صاحب بودا د فعل په بڼه تجزيه کړی، دا يوه تيروتنه ده، ځکه سيدهارتا بودا هغه تاريخي سکايی شهزاده و چي دغه مذهب (فعل) يي د ظلم او زور پرځای انسان ته ور ډالی کړ او د نړی له سترو او مهمو مذهبو څخه چي لوړ انسانی او بشري ارزښتونه لري وشميرل شو. نوره د مانو صاحب خوښه چي که په سانسکريت او پالي ژبو باندي چي د نړي او انسانی تمدن يوه پراخه زيرمه په کي خوندي ده، او دری زره کلن متون يي ليکلي اوس هم شته، باور نه لري، نو بيا دی برحق دی چي ووايی بودا هم پښه يی و او دده په وينا مذهبی تعليمات يې په پښه يي ژبه وو. هغه خلک چي يوه پيړی د مخه دوی په مذهبی لحاظ (پګان) بلل شوی او ثبت شوي دي.

په درنښت

**************************

(١) زما وړانديز په دغه اړه مانو صاحب او نورو ليوالو يارانو ته دادی چي دغي موضوع ته لږ علمي پاملرنه وکړي، زموږ ټولي ژبي د افغانستان د اندو او ژوند او فرهنګي ميراث يوه ډيره مهمه برخه جوړوي، خو له بده مرغه چي د هغو د پيژندني او څيړني لپاره د علمي مرکزونو لکه تش په نامه اکادميو له خوا هيڅ هم ترسره نه شول او نه دا هيله تري شته، کومه څيړنه چي ښاغلي مانو صاحب ترسره کړي هيڅ ډول علمی بنسټ نه لري او نه کولای شي، په دغه برخه کي بيلا بيلو پوښتنو ته ځواب راکړي. راځی چي له دغو ځاني ليوالتيا وو څخه چي موږ له قوم سالاري او سمت سالاري کلتور او برترئ غوښتنی سره په شعوري او غير شعوري توګه تړي تيرشو او د علمي څيړنو لاره په علمی صلاحيت او درايت سره د ځان او راتلونکو لپاره په نښه کړو، تر دغي مقالي به داسي يوه ليکنه ډيره ګټوره وای چي ليکل شوي وای د افغانستان فرهنګي مسؤلينو، د علومو اکاديمی او نورو څيړنيزو مؤسسو څه کړي او يا ولي په دغه برخه کي يوه ډله ييز کار اوعلمي څيړني ته توجه او پاملرنه نه کوي؟

دښاغلي مانو مقالي په افغان جرمن پورتال کي ددی لينک په مرسته لوستلای شئ :

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/a_j_mano_gandahara.pdf

پایان


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ